# د پوهاند رښتین د فولکلوري اثارو تحلیلي څېړنه او کتنه

Syed Muhideen Hashmi*

**ABSTRACT:**

*Sadiqullah Rekhteen is a famous Pashto literary person. He has written a number of books covering different aspects of Pashto Language and Literature including folklore. In this paper, beside the historical background of folklore writings and the works done by other Pashto writers, his contributions in this regard has been discussed critically.*

دپښتو ژبې او ادب دودې او پرمختیا په معاصر غورځنګ کښې پوهاند صدیق الله رښتین ډیره ارزښتناکه ونډه لري، داسې ونډه، چې ددوي د ادبي آثارو او افکارو له مطالعې پرته به ددغه ادبي بهیر څېړنه ، سپړنه او پیژندګلوي نیمګړې وي. دوي داسې مهال دپښتو ژبې او ادب دخدمت ډګر ته راودانګل، چې دغه ژبه له علمي او فرهنګي لحاظه په دې سیمه کښې دنورو ګاونډیو ژبو، په ځانګړې توګه فارسي څخه ډیره روسته پاتې وه، ددې ژبې علمي کول، سرکاري کول، د درس تعلیم او مطبوعاتو ژبه ګرځول دوخت ډیرمهمه غوښتنه او بنسټیزه اړتیاوه. دهمدغه اړتیا له مخې په کابل کښې دپښتو ټولنه(پښتو اکیډیمي) رامینځته شوې او ځینې نومیالي ادیبان، لکه: پوهاند عبدالحي حبیبي،. استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدالرؤف بینوا ، استاد قیام الدین خادم او نور پکښې دپښتو ژبې او ادب دخدمت له پاره

---

* Ph.D Research Scholar Pashto Department, University of Peshawar

ګومارل شوي وو، دوي هم په دغه لومړيو کښې ددغه ادبي او فرهنګي کاروان يا دپښتو ژبې او ادب دودې او پرمختيا دغورځنګ ملګري او ددې کار له پاره يې علمي او عملي هراړخيزې هلې ځلې پيل کړې.

دوي په يو وخت کښې دلرغوني او کلاسيک ادب په څېړنه او سپړنه ، دپښتو ژبې دقواعد او ګرايمر په ليکنه، دفولکلور او فولکلوري يا ولسي ادب په راټولونه څېړنه او دغسې دادب په نورو خواوو کښې ليکنې او څېړنې پيل کړې، چې مونږ دلته يې يوازې دفولکلور او فولکلوري ادب په باب د ليکنو او څېړنو لنډ جاج اخلو.

داستاد رښتين دچاپ او ناچاپ آثارو په ليکلړ کښې دداسې آثارو نومونه هم مخې ته راځي، چې دشکل او مضمون له مخې يې دفولکلور او فولکلوري ادب برخه ګڼلي او هغو ته دفولکلوري آثارو نوم ورکولي شو.

دلته داخبره ديادونې وړ ده، چې دنوموړي دآثارو دمطالعې په لړ کښې دهغو له ځانګړو په کتابي بڼه چاپ شويو آثارو برسيره ډيرې داسې مقالې ، ليکنې او څېړنې هم مخې ته راځي، چې دوي پکښې په عام ډول فولکلوري مسايل او يا په خاص ډول دپښتني فولکلوراو ادب پورې اړوند موضوعات څېړلي او سپړلي دي. دلته مونږ په دې مقاله کښې د بحث د لمنې د غځېدلو له وېرې دهغو ټولو پيژندګلو او ليکلړ (فهرست) نشو وړاندې کولي، يوازې به دده هغه آثار دروپيژنو او لنډه تحليلي کتنه به ورته وکړو،چې دځانګړو کتابونو يا رسالو په بڼه چاپ او خپاره دي.

ماته دڅېړنې په مهال دالاندې ځانګړي چاپ شوي آثار معلوم شول، چې ټول اويايې يوه زياته برخه د پښتني فولکلور او ولسي ادب پورې اړه لري:

۱-پښتو ادبيات ۲-داشعارو ډولونه، ۳-د پښتو ادبي مکتبونه، ۴-دپښتو دادب تاريخ، ۵-دژوند سندره ، ۶-پښتو قيصې ، ۷-پښتني لاربنود.

دلته د لنډې پېژندنې په ترڅ کښې پر هغو لنډه تحليلي کتنه کوو:

۱-پښتو ادبيات:

پښتو ادبيات داستاد رښتين دهغې رسالې نوم دې، چې په ۱۳۱۸ لمريز (۱۹۳۹م) کال، هغه مهال چې په کابل دارالعلوم کښې له ديني زده کړو فارغ شوي، دمسلک تقاضا، خو داوه چې چيرته قاضي يادديني علومو ښوونکي اومدرس شي، خو دې خپلې ژبې او ادب ته دخدمت په موخه پښتو ټولنې ته تللي او عملاً يې په دغه خدمت لاس پورې کړې دې. پښتو اکيډيمی ته له ورتګ سره سم دا ددوي لومړۍ ليکنه اوڅيړنه ده، چې ديوې رسالې په شکل يې کړي او د ۱۳۱۸ ش کال کابل کالنۍ خپره کړې ده. د دې اثر د پېژندنې او تحليلي کتنې لپاره به يوازې دا ووايو چې لومړۍ برخه يې دپښتو ولسي يا عاميانه ادب پيژندنې ته خاصه ده، چې په هغې کښې ليکوال دمنظوم ولسي ادب ټول مشهور ډولونه، لکه: لنډۍ (ټپه، مسره، ټيکۍ) رباعي (مقام)غزل، چاربيته، نارې يا غړونه، بګتۍ، نيمکۍ ياسر، لوبې، سندرې يا ولسي بدلې) (۱)

دمنظوم ولسي ادب ددې پورته ډولونو په هر يو باندې په مناسب تفصيل سره بحث شوي او ددې ډولونو دزيات شمير بيلګو پرته په دې ليکنه او څيړنه کښې دولسي ادبياتو په اړه داسې جامع او په زړه پورې نوي معلومات وړاندې شوي، چې هغه مونږ ددغه وخت په نورو ليکنو او څيړنو کښې نشو پيدا کولي.

۲-داشعارو ډولونه:

دپښتو اشعارو ډولونو په اړه د استاد رښتين يوه څيړنه ده، چې په ۱۳۲۴ لمريز کال يې بشپړه کړې او بيا څلور پنځه لسيزې وروسته په پيښور کښې دتاج محل کمپنۍ له خوا په ۱۲۱ مخونو کښې چاپ شوې ده. دلته يې يوازې پرهغه برخه درپېژنو، چې بکښې دپښتو ولسي ادب په باب څيړنه او سپړنه شوې ده.

ددې کتاب لومړۍ برخه (۱- ۳۲مخونه) دپښتو ولسي ادب پېژندنې ته ځانګړې شوې ده او پکښې ددغه منظوم ادب دالاندې ډولونه د ډېرو خوږو او په زړه پورې بېلګو په ترڅ معرفي شوي دي:

(۱)پښتو لنډۍ، (۲)نارې، (۳)سروکي، (۴) نيمکۍ ،(۵)لوبه، (۲)بګتۍ،(۷)اولسي غزل، (۸)چاربيته.(۲)

**۳**-دپښتو ادبي مکتبونه:

دا کتاب په ۱۳۲۲لمريز کال ليکل شوي او په ۱۹۸۸کال په پېښور کښې يونيورسټي بک ايجنسي چاپ کړي دي. دلته يې مونږ يوازې هغه برخه درپېژنو، چې دپښتو ولسي ادب په اړه پکښې څېړنه او سپړنه شوې ده. په دې اثر کښې دپښتو دنورو ادبي مکتبونو په لړ کښې اولسي ادبي مکتب په لنډ ډول پېژندل شوي او دولسي جنګي سندرو بېلګې پکښې راغلي، دغه بحث دکتاب په (۲۵- ۳۳)مخونو کښې په لنډ ډول راغلي دی. (۳)

**۴**-دپښتو دادب تاريخ:

داثر لومړي ځل په ۱۳۲۵لمريز (۱۹۴۲م) کال پښتو ټولنې چاپ کړي او بيا وروسته تر ننه څو ځله د بېلا بېلو خپرندويانو له خوا چاپ او خپور شوی دی، دلته يې يوازې پرهغه برخه بحث کوو، چې دپښتو دولسي ادبياتو په اړه پکښې لنډه څېړنه شوې.

پوهاند رښتين دې موضوع ته په پاملرنه، چې ((ولسي يا عاميانه او فولکلوري ادبيات دهرملت اواولس په ادبي تاريخ کښې ارزښتمنه ونډه لري. او دهغو له يادونې پرته ديوې ژبې دادبياتو مطالعه نيمګړې بريښي.))، نوځکه يې په خپل اثر (دپښتو دادب تاريخ) کښې د پښتو دولسي ادب مطالعه اوپېژندنه له پامه نه

دي غورځولې او په یوه برخه (۱۰۲- ۱۲۵) مخونو کښې یې دپښتو زیات شمیر ولسي شاعران او د هغو اشعارو بېلګې راپېژندلي دي. (۴)

**۵**-پښتني لاربښود:

داثر په **۱۳۵۲**المریز کال لیکل شوي او په ۲۰۰۰ م کال په پښتونخوا پیښور دیونیورستۍ بک ایجنسي له خوا په **۷۹** مخونو کښې دزرتوکو په شمیر چاپ اوخپور شوي دي.

دکتاب منځپانګه؛ چې ټوله پښتني فولکلوري مسایلو ته ځانګړې شوې، په درې برخو ویشل شوې ده:

له لیک لړ وروسته (دلوي خداي په نامه) دلیکوال له سریزې وروسته په **۷** مخ کښې لومړۍبرخه: پښتني خویونه ترسرلیک لاندې پیل کیږي، تر **۲۰**مخ پورې بیلابیل موضوعات تردغو سرلیکونو لاندې راغلي دي:

پت او عزت، ښیګڼه او نیکي، وفا او وعده ، توره او میړانه ، ننګ او غیرت، رښتیا او صداقت، زړورتیا او همت، انصاف او عدالت، شرم وحیاء، ښه ځواني او سخیتوت ، امانت ساتل، سلامشوره او په دوهمه برخه: پښتني دودونه (۲۱- ۳۱) مخونو کښې په دغو سرلیکونو کښې دا اړوند موضوعات تشریح شوي دي:

جرګه ، ننواتې، تیګه، سوله روغه، پناه ورکول، ننګ وروړل، دښځمنو درناوي، غزا او جهاد. په دریمه برخه : پښتني لارې چارې (۳۲- ۷۹) مخونو کښې دغه سرلیکونه په لنډیز سره موضوعات بیانوي:

بدرګه، بدل، برمته، داړه ،بندڼ، چیغه، یرغمل ، تړه او تړون ، پیغور، کوتتون، اشر، دوطن ساتنه، بسپنه او مرسته، میلمه پالنه، دمشرانو مننه، دمشر خوښونه، اختر او میله ، د اولاد روزنه، خپلوي او خیښي، روغبړ او ښه راغلي، خوراک او پوښاک ، دکارونو ویش، ګوندي او پره،

ځلویښتیان ، ګاونډیتوب، سوګند او لوړه، دځمکښې خرڅون، لوبې او سپورت، درنځور پوښتنه، دمړي لاس نیوه، دمړي خیرات، ویروسي، عام خیراتونه، پلارنۍ هدیره ، میراث، زیارتونه، دجماعت او ملانمانځنه، دحاجیانو نمانځنه، دلارې تګ، دواده چارې، هوکښې ، خوره، کوژده، پښې ارتي، چنغول، چنغوله، ولور اومهر، داختر جوړه، دلور داج، واده، نکاح تړل، دواده مبارکي، پروني ورکول، دزوي خوشحالي، دځمکو ویش، دکورونو ویش، داوبو ویش، ورشوګانې ، سزاګانې ، دمړي سزاګانې، دژوبلې سزا، دخطايې او غلامړیو دزنا سزا، دغلا سزا، دشیخ ملي سزا ګانې (۵)

دا چې استاد رښتین ددې اثر موضوع او منځپانګه ټوله پښتني فولکلور ته ځانګړې شوې، دلته پرې مفصله تحلیلي کتنه کوو:

تحلیلي کتنه:

دمخه تردې چې داستاد رښتین پښتني لارښود پرمنځپانګه تحلیلي کتنه وکړم، داستاد حبیب الله رفیع هغه ارزونه رااخلم ، چې ددې اثر دمنځپانګې اومحتوا په باب یې په یوه لیکنه کښې وړاندې کړې ده:

((دپوهاند صدیق الله رښتین پښتني لارښود دټولو اړخونو، کړو وړو، راشو درشو او راکړو ورکړو، یو ویر او هراړخیز لارښود دي، چې ځای په ځای پرتاریخي سوابقو هم نظر ساتي او پرپښتونوالۍ داوړدو ا وپراخو څیړنو له پاره دکارپوپلان هم دي....

په دې ترتیب دپوهاند رښتین داکوچنی کتاب دپښتونولۍ کلیات پخپل غیږه کښې رانغاړي او ددې لاره هواروي، چې راتلونکي څیړونکي دهمدې لارښود په رڼا کښې دپښتونولۍ په جزئیاتو پسې لټون او پلټون وکړي او ددې جوړې کړې نقشې دپاسه دپښتونولۍ ماڼۍ له خپلې ټولې ښکلا سره ودانه کړي او دنړیوال تمدن له ظاهراً ځلیدونکي او بلیدونکو دنګوماڼیو سره یې دمقایسې او پرتلنې ډګر ته راوباسي. په دې توګه دپوهاند رښتین دا کوچني او

وجیزکتاب به دپښتونولۍ دپولو ټاکلو په برخه کښې دلوي، ویړاو غوړیدلي کتاب کار کړي او علاقمندان به دپښتونولۍ ددنګ قداوقامت نندارې ته راوبولي.)) (۲)

دکتاب منځپانګې او په اړه یې دې پورته څرګندونو ته په کتنه ویلي شو چې: په دې اثر کښې دپښتو او پښتنوالۍ ، اولسي قوانینو او پښتنې دودونو په اړه لنډ ، خو ډیر په زړه پورې پوره او کره مطالب په ډیره خوږه ادبي ژبه بیان شوي دي. دا اثر به دحجم او پاڼو دشمیر په لحاظ وړوکے، خو دمعنا او منځپانګې په لحاظ ډیر لوړ او هر اړخیز دے، استاد په دې لنډه رساله کښې په اصطلاح سمندر په کوزه کښې ځاي کړي او دپښتونولۍ، پښتني عنعناتو، ولسي قوانینو او مقرراتو اړونده مفاهیم یې په پوره فصاحت او بلاغت بیان کړي دي.

۲-پښتو قصې:

دفولکلوري لنډ قصوټولګه ده، چې استاد رښتین او غلام رحمان جرار په ګډه لیکلې، ژباړلې او ترتیب کړې او په ۱۳۳۱لمریز کال دپښتو ټولنې په ۱۲۴مخونو کښې په کوچنۍ جبي کچه چاپ او خپره کړې ده.

دکتاب لومړۍ برخه (۱- ۹۲مخونه) دپوهاند رښتین لیکلې او ژباړلې ۷۹ وړې کیسې دي، چې په ترتیب سره په دې سرلیکونو راغلې دي:

دچغلۍ نتیجه ، دمیښو ملګري، داویش دې له چانه زده کړ، دبوډۍ باز، غل او دهقان، ګیدړ او سورلنډي، یتیم هلک ، زمري او پیشو، یو ماهي دوه کیږي، ایلم او دوه سري، طالب او ملا، هوښیار طبیب، ضعیفه اشتها، الخیر في ماوقع ، لاس ماس وهل، زمري او سویه، زمري او غویان، داماهي نر دي که ښځه، زما زړه نه سیزي، عجیبه واعظ، په ځاي شومتیا ، سمدستي میوه، دګیدړ قواله، بې له مادې شل نه کړه، دبې پروا یۍ نتیجه، هوښیار حکیم، عجیبه دوست، ناکام کاکا ، دشیطان شکل، دملا چرګګ میلمستیا ، عجیبه سوالګر، سم ځواب، کلک سترګي میلمانه، حاضر جواب سوالګر، دیار سره هم پنج، داګز او دامیدان، خیټه خودې خپله وه، دګیډې علاج، دجولا پوښتنه،

سم ځواب، سادګان، دژرندې مزد، درمضان وژل، بې ښځې ځوي غوښتل، طالبان اوشيخ، مناره، ښه اوبده، پيسو ته کوږ نه يم، دالمر اوبالټکوک آخر الټکوک، پردې خط کتل، چنيګ داړي، دبوډۍ غوا، دتادۍ کار، په دواړه جهانه اور، ځواني لټوم، غلي سپي شو، داور خارښت، ددنيا منځ، دسيد محمود پاچالټان، دستورو مير، دارنګ دې دڅه شي ورکړي دي، شپږم مونځ، حاضر جواب نوکر، چپه پوستين، معتبربندي، ښه ځويه! کوه قاف، غل او غريب، رښتيا وايي، داکار زمانه دي، باسليقه ځوان، رمضان، دخره خاوند، شړۍ ورکيده، مرۍ يې راته وينې کړه، پنج عيب، غوږ خو درپورې دي، دا ځکه داسې دي، قيمتي حيوان (۷)

دا چې استاد رښتين دغه اثر هم پښتو فولکلوري کيسو ته ځانګړی شوی، نو لاژمه ده چې دلته پرې د يو ځانګړي سرليک لاندې تحليل کتنه وکړو:

تحليلي کتنه:

ددې اثر پرمنځپانګه تحليلي کتنې له پاره به تر هر څه لومړي دليکوال هغه څرګندونې غوره او پرځای وي، چې دکتاب په سريزه کښې يې د کيسو دمنځپانګې دپيژندنې له پاره کړي دي:

((دپښتو داحکايتونه سربيره پردې چې اخلاقي او اجتماعي درسونه لري، دزړه خوښۍ، تفريح، او خوش طبعۍ خواړه هم پکښې پراته دي او دټوکو وشتو مزه هم ورسره ملګرې ده. داقصې دپښتو دخوږو خبرو اترو په رنګ کښې له يو ځاي بل ځاي او اکثر دخلکو دخولو نه راټولې شوي دي. په دې قصو کښې يو مخصوص خوند، ځانله لطف او بل شان مزه پرته ده، چې په ويلو او اوريدلو يې زړونه خوښيږي او وچولي غوړيږي.

ددې کتاب په لمن کښې وړې وړې قصې، ټوکښې او وشتې، دپښتو ټکونه او اړونه سره راټول شوي او يوه خوږه مجموعه ترې جوړه شوې ده.)) (۸)

۷-دژوند سندره:

په عام ډول دموسيقۍ او بيا په ځانګړې توګه دپښتو ولسي موسيقي او دسازاوموسيقي دآلو په باب ليکل شوي کتاب دي، چې لومړي ځل په ۱۳۳۸ لمريز کال د کابل راډيو دنشراتو رياست دپښتون ږغ مجلې دمديريت له خوا په ۱۳۲ مخونو کښې دزرټوکو په شمير چاپ او خپور شوي دي.
دا کتاب دويم ځل په ۱۳۸۵ لمريز کال په پيښور کښې دساپي موقوفاتو (پښتو څېړنو او پراختيا مرکز) له خوا چاپ شوي دي.
کتاب داستاد بينوا (چې هغه مهال دکابل راډيو رئيس و) په يو يادښت سره، چې (وړاندې کول) ترسرليک لاندې يې پکښې ددې اثر په ارزښت او اهميت لنډې خبرې کړي، پيل کيږي. ورپسې ليکلړ او بيا په لومړي مخ کښې د ليکوال سريزه راغلې، چې لومړي يې پکښې دخپلو علمي – فرهنګي هلو ځلو لنډه يادونه کړې او بيا يې په دې اثر کښې دخپلې ليکنې او څېړنې په څرنګوالي لنډ بحث کړي دي، په څلورم مخ کښې دکتاب اصلي متن پيل او په ۱۳۲ مخ پاي ته رسيدلي دي، په ترتيب سره په دې لاندې سرليکونو موضوعات راغلي دي:
سندرې ، موسيقي پيژندنه، دموسيقي تاريخ او پيدايښت ، دموسيقي کلمه، موسيقي دپوهانو په نظرکښې، موسقي ا وملیت ، موسيقي او مذهب، دموسيقي اغيزه او اهميت، دموسقي نغمې، مقامونه، راګونه، نوبتونه، غربي موسيقي، دغربي ساز آلې، غربي سندرپوهاند اوسندر غاړي، دعربي موسيقي او ددوي آثار، هندي موسيقي، اروپايي موسيقي، پښتني موسيقي، لرغونې موسيقي، دسازآلې: رباب، شپيلۍ، سرنده، ارمونيه ، ستار، تنبور چنبه، غژکه، سورني، ډول ، ډولکي، بين، منګي، کرنا، بيګل يا تورم، تورۍ، سندرغاړي او سندرپوهاند، د لرې پښتونخوا سندرغاړي، په نورو ملکونو کښې دپښتني موسقيي اغيزه، دسازآلې، پښتني ساز، اصطلاحات، د سندرو وختونه، موسيقي او نڅا، اتڼ ، نڅا او ګدا، دپښتو موسقي او پښتو شاعرۍ تړون، دپښتو موسيقي دپرمختګ لارې. (۹)

تحلیلي کتنه:
پردې اثر او دهغه پرمنځپانګه تحلیلي کتنه به داستاد بینوا له هغو څرګندونو راپیل کړو، چې (دوړاندې کول) ترلیک لاندې یې لیکلي دي:
((دکابل راډیو کارکوونکي ویاړي، چې دلومړي ځل له پاره د پښتني سازا او سرود په عالم کښې په پښتو ژبه د پښتون لیکوال په قلم لیکلي شوي مهم اثر دموسیقي علاقه مندانو ته وړاندې کوي.
دا کتاب له دوو جهتونو دستاینې او قدر وړ دي: یو داچې په پښتو ژبه کښې دالومړي اثر دي، چې دموسیقي په باب لیکل شوي او بل دا چې دپښتني سازونو دنومونو د څیړنو له کبله هم ابتکار لري.)) (۱۰)
دلته به داستاد حبیب الله رفیع هغه نظر هم راواخلو، چې ددې کتاب دپیژندنې له پاره یې په (سبا ستوري) مجله کښې دیوې مقالې په ترځ کښې خپور کړي دي:
((دژوند سندره دپوهاند رښتین داسې اثر دي، چې لومړي ځل یې پکښې دپښتو موسیقي او دهغې آلې وڅیړلې او وځیرلې.
دژوند سندرې هم د موسیقي په عمومي اړخونو معلومات او مطالب درلودل اوهم یې دپښتوموسیقي ځانګړي آلات بیل بیل معرفي کړي، رباب ، سرینده، باجه، دوکړه او نور ټول موسیقي الات یې راپیژندلي دي، دهر یوه ددودیدو او رواجیدو په تاریخچه پسې ګرځیدلي، دهرنامه فیلالوجیکي اړخ یې څیړلے ، له ګاونډیانو سره یې دورته والي په برخو خبرې کړي دپښتنو په ګاونډیانو یې د پښتني موسیقي اغیزې څیړلي، نامتو هنرمندان یې یاد کړي او دپښتنو دولسي موسیقۍ خوندونه یې بیان کړي دي...
په دې ترتیب دپوهاند رښتین دژوند سندره یو اتبکاري اثر دي، یعنې دا دژوند سندره همداسې دژوند سندره ده.)) (۱۱)
دکتاب منځپانګې او دې پورته تحلیلي کتنو ته دکتنې په پایله کښې به ووایو چې، په دې اثر کښې یې په عام ډول موسیقي او دموسیقي آلات معرفي کړي،

خو دا چې ډېرې بحث يې دپښتو دولسي او عاميانه موسيقۍ په اړه دي، نوځکه يې داستاد په فولکلوري څېړنو کښې شميرو.
پردې پورته ځانګړو چاپ شويو آثارو سربيره استاد رښتين په ځينو چاپي خپرونو په ځانګړې توګه په کابل مجله او زيري جريده کښې دپښتني فولکلور او عنعنو په باب ځينې مقالې ليکلي، چې دبيلګې په توګه يې په کابل کالنۍ کښې دليلي او مجنون فولکلوري کيسې په اړه څېړنه او په زيري جريده کښې دپښتني دود دستور د بيلابيلو اړخونو په باب ليکنې او څېړنې چاپ شوې دي.
دلته مونږ د ټول بحث د پايلې په توګه همدومره وايو، چې د پښتني فولکور په راټولونه، څېړنه او سپړنه کښې د استاد رښتين ونډه زياته ده او د ليکوالۍ له پيل ۱۳۱۸ لمريز (۱۹۳۹م) را پـه دې خـوا د ژونـد تـر پـاى (۱۳۷۷لمريز/۱۹۹۸م) پورې يې د خپل ۲۱ کلن فرهنګي ژوند په بهير کښې يې ډېر ارزښتناک اثار ليکلي، چې د هغو کتنه او مطالعه مونږ ته استاد د يو پياوړي فولکلوريست او ددې ډګر د يو حقدار ليکوال او څېړونکي په توګه را پېژني.

# حوالې


۱. رښتین صدیق الله، کابل کالنۍ، پښتو ادبیات، د پوهاند رښتین مقاله، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۱۸ لمریز کال، ۳۸۹، ۴۰۸ مخونه.
۲. رښتین صدیق الله، د اشعارو ډولونه، تاج محل کمپنۍ پېښور، د چاپ کال نه لري.
۳. رښتین صدیق الله(پوهاند) د پښتو ادبي مکتبونه، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۳۸۸ لمریز کال.
۴. رښتین صدیق (پوهاند) د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه- کابل، ۱۳۲۵ لمریز کال.
۵. رښیتن صدیق الله (پوهاند) پښتني لارښود، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۲۰۰۰م کال، ۹ - ۱۴مخونه.
۶. رفیع ،حبیب الله، د پوهاند رښتین یاد، ۲۰۰۰ م کال، ۴۷۹- ۴۸۰ مخونه.
۷. صدیق الله رښتین او غلام رحمن جرار، پښتو قصې، پښتو ټولنه- کابل، ۱۳۳۱ لمریز کال، ۱۵- ۲۰ مخونه.
۸. پښتو قیصې، ۱- ۲ مخونه.
۹. رښتین صدیق الله (پوهاند) د ژوند سندره، د صافي د پښتو څېړنو د پراختیا مرکز، ۱۳۸۵ لمریز کال، ۱- ۱۳۲ مخونه.
۱۰.د ژوند سندره، سریزه، ۱-۲ مخونه.
۱۱. رفیع حبیب الله، سبا ستورے مجله، اومه-اتمه گڼه، ۱۳۷۹ لمریز کال، ۷۹- ۸۰ مخونه.